# دَ یوحنا رسُول دریم خط

## سلام

١ دَ مشر له طرفه، خوږ ګایوس ته، دَ چا سره چه زَهٔ رښتینے مینه لرم.

٢ زما خوږه ګایوسه! زَهٔ دُعا غواړم چه روغ جوړ اَؤ په خیر خیریت اوسے
لکه څنګه چه زَهٔ خبر یم چه تهٔ په روحانی طور یئے. ٣ هر کله چه ورُونړه
راغلل اَؤ ما ته ئے دا ووئیل چه تهٔ څومره په حقیقت کښے ژوند تیروے نو ډیر
خوشحاله شوم. بے شکه تهٔ په خپل ټول ژوندُون کښے رښتینے یئے. ٤ دَ
دے نه زیاته خوشحالی ما ته په بل هیڅ څیز نهٔ حاصلیږی چه زَهٔ دَ دے نه خبر
شم چه زما بچی په حقه لار روان دی.

## مرسته اَؤ مُخالفت کول

٥ اَئے وروره! تهٔ دَ ورُونړو په خدمت کښے ډیر وفادار یئے اګر که تهٔ هغوئ
پیژنے هم نه. ٦ هغوئ دلته دَ جماعت په وړاندے ستا دَ ښهٔ سلوک صفت
وکړو. مهربانی وکړه تهٔ دَ دوئ په سفر کښے ورسره هغه شان مدد وکړه لکه
څنګه چه زمُونږ دَ خُدائے دَ وړاندے لائق دی. ٧ هغوئ دَ عیسیٰ دَ نُوم دَ
خاطره دَ خدمت کولو دَ پاره ووتل اَؤ دَ بے ایمانانو نه هیڅ څیز هم نهٔ آخلی. ٨
نو مُونږ ته لازم دی چه دَ داسے خلقو مدد وکړُو اَؤ په دغسے کولو دَ حقیقت په
خورولو کښے دَ هغوئ ملګری شُو.

٩ ما جماعت ته یو خط استولے وو خو دیوترِفس چه دَ دوی دَ مشرئ شوق
لرُونکے دے مُونږ نهٔ قبلوی. ١٠ که زَهٔ درغلم نو هغه کارُونه به درته په ګوته
کړم کُوم چه هغه کوی. هغه زمُونږ په خلاف بے بُنیاده اَؤ سپک تهمتُونه لګوی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اَوْ لا په دے هم نۀ صبرېږى بلکه زمُونږ ورُونه هر کلى ته پرېږدى قدرِ هم نه، اَوْ
ښوک چه داسے کوى هغوئ هم منع کوى تر دے چه دَ جماعت نه ئے هم
وباسى.

⑪ زما خوږه ملګريه! دَ بدو پيروى مه کوه بلکه دَ ښو کوه، ښه کار کوُونکے دَ
خُدائے بچے دے اَوْ بد کار کوُونکى خُدائے کله هم ليدلے نۀ دے.

⑫ دَ ديميتيريوس دَ پاره هر ښوک ښۀ شهادتورکوى اَوْ دا حقيقت هم دے،
مُونږ پخپله هم دَ هغۀ شهادت ورکوُو اَوْ تۀ خبر ئے چه زمُونږ شهادت رښتينے
دے.

## آخرى سلام

⑬ زۀ ډيرے خبرے درته ليکل غواړم خو دا نۀ غواړم چه په قلم اَوْ سياهئ ئے
وليکم. ⑭ زما اُميد دے چه ډير زر به تا ووينم اَوْ مخامخ به درسره خبرے
وکړم.

⑮ په تا دِ سلامتى وى. زمُونږ دوستان سلامُونه درته وائى، زمُونږ هر يو دوست
ته سلام ووايه.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
© pashtobibles.org عام ۱۹۹۶
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.